






فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا
د نشر نيټه : اول مى ۲۰۱۳ ميلادى

# زما له مرګ وروسته به...

د غويي اتمه وه ماسپيښين مهال و رخصتي وه ټولې اداري بندې وې کابل ښار هم لکه د نورو ورځو په شان له دبدبې او بيرو بارځخه لويدلی و.

له خپلو دوستانو سره وم زړه مې هم په تنګ و ټيليفونونه مې هم خاموش و چا راته زنګ نه وهلو او زه هم ذهني پريشانی غورځولی وم.

انټرنيټ و خو څه ستونزه پکې راغلې وه ما ويل تلويزون به ولګوم او څه د خوښې موضوع به وګورم که کومه ادبي خپرونه وي او ياهم کومه بله ټولنيزه موضوع وي چې بحث پکې روان وي او ساعات مې ورسره تيرشي.

د تلويزون ريموند مې را واخيست ډير تلويزوني چينلونه مې واړول او را واړول ګورم چې د خيبر تلويزون د وياند لخوا د پښتو مشهور ډرامه نګار احسان باچا سره بحث روان و.

احسان باچا چې له ډيرو کلونو وروسته مې د تلوزون په ښيښه وليد امسا ورسره وه په ډير ستړي او نا ارام زړه يې خبرې کولې او ناروغ هم و.

دهرې خبرې سره يې ټوخی کاوه او سور شين به واوښت، د خپلو خلکو او حکومت نه ډير ګيله من و.

هرې خبرې يې ناهيلي درلوده. ښاغلی باچا چې له ډيرې مودې راهيسې ناروغ و هيڅا يې د درملنې لپاره لازمې اسانتياوې برابرې نه کړې.

نوموړي چې د خپل ولس او خپل هیواد لپاره یې بلا بلا ویاړونه د هنر په مټ راوړي دي او د خپل هیواد د ناخوالو انځور یې تر نړیوالو رسولی او خپل هیواد یې نړیوالو ته د سولې ټاټوبی ور پیژندلی او خلک یې د سولې سفیران بللي داهغه څه دي چې ده په خپله ځوانی کی هغه مهال چې د روغې ستې ښتن و په خپل توان او طاقت سره کړي دي.

داچي دی اوسمهال ناروغ دی د پخوا غوندې له توان او طاقت څخه لویدلی دی د ده هغه پخوا نی ځواني نشته او نه هغسې توان او قدرت لري کوم چې ستونزو ته به یې خپل همت له لاسه نه ورکاوه.

نوموړي یوه خبره وکړه چې کله زه مړ شم نو دا غټان خلک شاعران.لیکوالان او رسنی به پرما تبصرې کوي او وایي به چې دا داسې سړی و داسې یې ښه کار کړی دی ښه فن یې درلود کاش چې زموږ ترڅنګ وای او د مرګ بلا نه وای خوړلی او داسې نورې خبرې...

کار هم نشته چې په دې ناروغی کې مزدوري وکړم که وي هم هغه به زما له توان نه لوړ کار وي،که د هنر له لارې وي نو بیا به د اوس وخت ډرامې وي چې ټوله فاحیشي به پکې وي او د دې له لارې د پیسو ګټل زما نه خوښیږي له دې نه ښه ده چې مړ شم ،چې مرګ مې په عزت کې وي او نه چې د خپل پښتني کلتور د عزت ستنې ونړوم.

هغه ډیرخفه و ویل یې دا اوسنی پښتو ډرامې د انسان څه چې د خپل فرهنګ او اسلام د عزت جنازې یې ایستلې دي.

یوه خبره چې ډیر خواشینی شوم او ان تردې چې ومې ژړل داسې مې وژړل چې ګریوان مې لوند او سترګې مې سرې شوې تبه را باندې راغله د بدن ویښتان مې ودریدل هغه دا و ،چې د تلویزیون د ویاند لخوا یوه پوښتنه ترې وشوه او ورته یې وویل: که ته بیرته زلمی شي نو څه به کوې؟

هغه ډیر په ناهیلیتوب وویل که زه بیرته زلمی شم نو زه به نایي شم او دخلکو ویښتان به جوړوم او دا هنر به پریږدم ډرامې به پریږدم ځکه چې زما په ژوند کې دې هنر څه ونه کړل خلک یې هوښیار نه کړل د کانو زړونو خاوندان یې نرم نه کړل د خلکو عاطفي قوه یې پیاوړې نه کړه نو زه داهنر څه کوم او څه راته په درد وخوړل شو!

په ریښتیاهم هغه ډیر ناروغ دی دومره مالي امکانات نلري چې د خپلې تداوئ لپاره پرې کومه لاره برابره کړي؛نو د ده د ناروغی تداوي به څوک کوي؟

داهغه پوښتنه ده چې له ډیرې مودې راپه دیخوا نه ده حل شوې.هیچا د ده د ناروغی لپاره څه کړي نه دي.

همداسې موږ نور ډیر د فن او دهنر خاوندان لرو چې یا ناروغان دي او یاهم بې وزله دي او زموږ حکومت خو څه،چې ملي سوداګر هم دې ته نه حاضریږي ترڅو د دوی د تداوی لپاره مالي مرستې وکړي.

داسې مشران هم لرو چې په پیسو یې بانکونه پرسیدلي دي او د خپلې ناروغی لپاره د سر درد لپاره بهرنیو ملکونوته ځي او زموږ هغه خوار او غریب خلک او د هنر خاوندان چې د خپل هنر او فن په

برکت يي موږ نړی ته ور پيژندلي يو،زموږ خوار غږ يي ور رسولی دی او نړی ته يي ښودلي دي چې موږ د جنګ او جګړې خلک نه يو موږ د سولې لارويان يو او جګړه تل تاسو پر موږ تپلې ده. د ستر انسان غفار خان بابا خبره را اخلم چې ويل به يي : مړه قومونه مړه ستايي او ژوندي قومونه بيا دژونديو ستاينه کوي.

زموږ ټولنه په تېر دور کې د باچاخان بابا د وينا مطابق په داسې حالت کې وه ، چې يوازې دهغه چا ستاينه به مو کوله ، کله به مو چې يوه وتلې څېره له لاسه ورکړه او د تورو خاورو لاندې به شوه ؛نو اوس خو موږ د هغه پخوا جاهليت څخه راوتلي يو او ژوند ماشيني شوی دی هرڅه ډېر په بيړه کيږي د انسان د ناروغی علاج د نړی په ګوټ ګوټ کې کيږي اوس خو همت پکار دی او يو بل سره په ستونزو کې لاس ورکول پکار دي اود يووالي په فکر راټوليدل پکار دي.

او بايد،چې د دوی ستاينه د دوی په ژوند کې وشي او وهڅول شي ترڅو په خپلو کارونو کې نور هم ښه وځليږي.

زه په ټولو افغان ملي سوداګرو،حکومت ،شاعرانو،ليکوالانو او دقلم پر خاوندانو غږ کوم چې راشئ زموږ د فن او هنر خاوندان چې وياړونه يې دي ولس ته راوړي دي او په دې وياړونو تاسوهم ښه او درانده ښکارئ خپلې مالي مرسته وکړئ او پرې نږدئ چې زموږ دغه د فن او هنر خاوندان له مينځه لاړ شي او همداسې په ستونزو کې ګير پاتې شي.

زه باور لرم چې دا زموږ لوړ فکرونه به نور هم پرمخ لاړ شي او په راتلونکي کې به خپل ګران هيواد افغانستان له نړيوالو سره سيال وګرځوو او د دې مخنيوی وکړو.

اوهڅه وکړو ترڅو نورخلک زموږ پر فرهنګ تيری ونه کړي او د پلار او نيکه هغه په زرينو کرښو ليکل شوی تاريخ له مينځه لاړ نشي او هغه وياړونه چې تر ننه موږته پاتې دي په اوبو لاهو نه شي او د بدنامی تور داغ مو پر تندي ليک پاتې نه شي.

فريد احمد « تسکين »

کابل قوه مرکز

۸/۲/۱۳۹۲ غويی

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org